امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۱۵ الی ۲۰ سنبله ۱۴۰۴

شماره یکصدو بیست و یکم



## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او کاتولیک خیریه نړیوالې مؤسیسې ترمنځ د (۱،۰٤۰،۷۰۲) ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملانورالدین ترابی د کاتولیک خیریه نړیوالی مؤسیسې د استازی برانون مور او د کابل د دفتر رئیس احمد فرید صمیمی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او وویل چې افغانستان یو له هغه هیوادنو څخه دی چې د طبعی او غیر طبعی پیښو سره زیات مخ دی...

ادامه در صفحه۲

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په افغانستان کې د جاپان له سفیر سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملانور الدین ترابی د جاپان له سفیر ښاغلې تاکایوشی کورومیا او ورسره راغلي پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۳

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د پیاوړتیا مؤسیسې تر منځ د (۳۸۳،۷۹۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملانورالدین ترابی د افغانستان د پیاوړتیا مؤسیسې د رئیس عبدالهادی کریمی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه وکتل...

ادامه در صفحه۳

## د پیښو چارو د همغږۍ معین د لوګر ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت د مرستیال والي سره یې وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پیښو چارو د همغږۍ معین محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث) د یو تخنیکی، مسلکی پلاوی په مشرۍ د هیواد ولایتونو ته خپل رسمی سفر په لړۍ کې، د لغمان...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او کاتولیک خیریه نړیوالې مؤسیسې ترمنځ د (۱,۰۴۰,۷۰۲) ډالرو په ارزښت دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملانورالدین ترابی د کاتولیک خیریه نړیوالې مؤسیسې د استازی برانون مور او د کابل د دفتر رئیس احمد فرید صمیمی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او وویل چی افغانستان یو له هغه هیوادنو څخه دی چی د طبعی او غیر طبعی پېښو سره زیات مخ دی.

همدا راز ترابی صاحب زیاته کړه چی په هر ولایت کی مؤسیسات پروژې تطبیق کوی، موږ ورته پوره ژمن یو او ورسره همکاره یو تر څو زیانمنی کورنۍ د مرستو څخه ژر برخمنی سی.

په افغانستان کی د یادی مؤسیسې استازی برانون مور وویل چی یاده مؤسیسه د ډیر وخت راهیسی افغانستان کی فعالیت لری او تل یې د طبعی او غیر طبعی پیښو په برخه کی همکاری کړی ده.

ښاغلی برانون مور د ترابی صاحب څخه ځانګړی مننه وکړل چی تل یی زموږ سره په هره برخه کی همکاری کړی ده او زموږ کارونه یې د اصولو له مخی ژر راخلاص کړی دی.

د یادونې وړ ده، چې یاده تفاهم نامه د یومیلیون او څلویښت زره اوه سوه او دوه(۱,۰۴۰,۷۰۲) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک سوه، چې له مخې به یې

۱. د اقلیم د زیان په اړه د هبواد په شپږو ولایتونو هرات، کندهار، پکتیکا، هلمند، غزنی او زابل ولایتونو کې چی مشری یې CRS مؤسیسه کوی، د نورو مؤسیساتو په مرسته معلومات راټولوی، تحلیلوی او د هغو معلومات د ارزونې راپور جوړول.

۲. هرات ولایت په انجیل، ګذره، کشک کونه او رباط سنګی ولسوالیو کې لاندې لاندی فعالیتونه ترسره کوی.

۳.په ۲۰ کلیو کې د پیښو دخطرونو د مدیریت کمېټې جوړول او د ۵۰۰ کسانو د ظرفیت لوړولو پروګرام تطبیقول.

۴. د پیښو د خطرونو د مدیریت پلان جوړونه آسانه کول.

۵. د ټولنې په کچه د خطرونو د مخنیوی او چمتوالی پیاوړتیا لپاره د ټولنې DRM برابرول.

۶. د روزونکو کارمندانو لپاره د پیښو د خطرونو دمدیریت د آسانه کولو روزنه.

۷. د DRM کمېټو ته عملی تعقیبی ملاتړ چمتو کول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس په افغانستان کې د جاپان له سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملانور الدین ترابي د جاپان له سفیر ښاغلي تاکایوشی کورومیا او ورسره راغلی پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل.
د جاپان سفیر، ښاغلي تاکایوشی کورومیا په هیواد کې د ورستیو زلزلو له امله خواشینی څرګنده کړه او جاپان یې د افغانستان یو ښه دوست هیواد یاد کړ او د خپلو کړو مرستو یادونه یې وکړه او وویل چې لابه هم خپلو مرستو ته دوام ورکوو ترڅو لا هم د دغه دوو هیوادونو اړیکی پیاوړې سی.
ښاغلی سفیر د یادی اداري د لوی رئیس څخه مننه وکړه چې تل یې د مؤسیساتو سره همکاري کړې او زیانمنو کورنیو ته یې په شفافیت سره مرستی رسولی دی، همدارنګه به د د کنړ ولایت د زلزله ځپلو سره نوری مرستی هم وکړو.
ښاغلي ترابي صاحب د سفیر او راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او مننه یې ورڅخه وکړه چې د کنړ ولایت د زلزله ځپلو کورنیو سره یې مرسته کړې ده، همداراز یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري پر لاسته راوړنو او مشکلاتو یی ګډ بحث وکړ او یادونه یې وکړه چې په افغانستان کې زیات شمیر خلګ د غربت او بې وزلۍ سره مخ دی او مرستو ته جدی اړتیا لری او مرستی باید بشری وی سیاسی اړه ونرکړی.
همداراز، ښاغلي ترابي صاحب زیاته کړه چې جاپان هیواد تل زموږ سره د مرستو په برخه کې زیاته همکاری کړی ده او موږ ورڅخه منندوی یو او په راتلونکې کې د لازیاتو همکاریو او مرستو غوښتنه یې هم ورڅخه وکړه.
دغونډې په ورستیو کې پر ګډو همکاریو ټینګار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د افغانستان د پیاوړتیا مؤسیسې تر منځ د (۳۸۳,۷۹۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی اداري لوی رئیس الحاج ملانورالدین ترابي د افغانستان د پیاوړتیا مؤسیسې د رئیس عبدالهادی کریمی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه وکتل.
ترابي صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وواېه او زیاته یې کړل چې دوې میاشتی مخکې مو هم د یادی مؤسیسې سره تفاهم نامه لاسلیک کړې ده او خوښ یو چې نن یو ځل بیا تفاهم نامه لاسلیک کوو او په دې سره به شاوخوا ۱۶,۹۰۵ کورنۍ د مرستو څخه برخمنی سی.
همدارنګه ترابي صاحب وویل چې هر ډول پروژې په هر ولایت کې عملی کیږی باید په پروژو کی پوره شفافیت وی او خلګ پر وخت د پروژې د ګټو څخه برخمن سی.
د افغانستان د پیاوړتیا مؤسیسې رئیس, ښاغلي عبدالهادی کریمی وویل چې یاده مؤسیسه په بیلابیلو برخو کی د خلګو سره مرستی کوی، چې یوه برخه یی د طبیعی او غیر طبیعی پېښو زیانمن دی.
د یادونې وړ ده، چې یاده تفاهم نامه د درې سوه دری اتیا زره اوه سوه او اوه نیوی (۳۸۳,۷۹۷) ډالرو په ارزښت لاسلیک سوه، چې له مخې به یې د کندز او بغلان ولایتونو په ټولو ولسوالیو کی ۱۶,۹۰۵ بېوزله او زیانمنو سویو کورنیو ته د یو کال په موده کې، خوراکی او نغدی مرستې ووېشی، چې په کندز ولایت کې به ۱۱,۱۳۲ او بغلان ولایت کې ۵,۷۷۳ کورنیو ته په میاشتنی ډول ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵۵، لیتره غوړی، ۶.۲۵ کیلو دال، ۰.۵ کیلو مالګه او همدارنګه په کندز ولایت کې به ۱،۹۶۲ او بغلان ولایت کې ۹۸۱ اړمنو او د طبیعی پېښو له امله زیانمنو سویو کورنیو ته هری کورنۍ ته به ۲,۹۰۰ افغانی وویشل سی.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د دې ولایت د مرستیال والي سره یې وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) د یو تخنیکی، مسلکی پلاوی په مشرۍ د هیواد ولایتونو ته خپل رسمی سفر په لړۍ کې، د لغمان، نورستان، کنړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندی او میدان وردګ ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاری پروسې له څارنې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه د لوګر ولایت ته ورسید.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د رئیس محترم قاری نورالله محمود او د هغه د مل پلاوی په شتون کې د ولایت مقام د مرستیال محترم الحاج مولوی محمد انور دین پرور سره وکتل.

په دې غونډه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین، نورو ولایتونو ته د خپل سفر یادونه وکړه، ویې ویل چې د دې سفر موخه له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاستونو د عمومی وضعیت بیاکتنه، د اسلامی امارت د عالی مقام د فرمانونو، احکامو او لیکونو د پلی کولو تعقیب، د مالی او اداری چارو ارزونه، د تفاهم لیکونو د پلی کولو څارنه، د وقایوی پروژو بیاکتنه، د بشری مرستو د ویش، د ماین پاکۍ چارو، د نشراتی چارو د پروسې تعقیب او د موجوده ستونزو او وړاندیزونو اورېدل دی.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره د خپلو قانونی واکونو او ماموریتونو په چوکاټ کې د وقایوی پروژو د پلی کولو، د اغیزمنو خلکو سمدستی اړتیاوو ته ځواب ویلو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت ښه کولو لپاره هراړخیز همکاری ته ژمنه ده.

په دوام یې، د لوګر ولایت مرستیال، د زیانمنو خلکو سره د چلند په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د مشرتابه ستاینه وکړه، د دې ولایت زیان منونکی حالت ته یې اشاره وکړه او ویې ویل چې د دې ولایت خلک د طبیعی پېښو له امله ډېر زیان منونکی دی او بشری مرستو او وقایوی پروژو ته اړتیا لری.

ورپسې، پلاوی د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست کار جریان یې له نږدې وڅېړو. د دې سفر په جریان کې، د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال د دې ریاست له رییس او کارمندانو سره خبرې وکړې، د دوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل، او د اسنادو او فعالیتونو د ارزونې پرمهال یې کارکوونکی وهڅول چې د دوی د دندو له شرایطو سره سم ګرندی، پر وخت او اغیزمن خدمات وړاندې کړی.

د یادونې وړ ده، چې پورته یاد شوی پلاوی په دې ریاست کې د څارنې او لارښوونې پروسه پیل کړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې په انګړ کې د تیلو پمپ جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری رئیس، محترم مـولوی عبدالله محمدی د دې ادارې په انګړ کې، د ادارې د وسایطو لپاره د تېلو پمپ د جوړېدو چارې له بشپړېدو وروسته د یو شمېر کارکوونکو په شتون کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه رسمًا ګټې اخیستنې ته وسپاره.

د تېلو دا پمپ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس، محترم الـ.حاج مـ..لا نورالدین په لارښوونه، د دې ادارې په انګړ کې د ادارې د کارکوونکو د وخت د سپما، د کارکوونکو لپاره د آسانتیا برابرولو، د ښه کیفیت لرونکو تېلو د ترلاسه کولو، پر وخت پېښو ته د رسېدنې او د ټیټ کیفیت تېلو د نه کارولو په موخه جوړ شو.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې رهبری تل هڅه کوی، ترڅو د خپلو کارکوونکو لپاره د کارونو د پروخت ترسره کېدو په پار اغېزمنې آسانتیاوې رامنځته کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د مالیزیا د طبی مرستو ټولنی د راغلي پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج مـلا نورالدین تـرابی د مالیزیا د طبی مرستو ټولنی د اجراییه مدیر حافظ احمد امیرول او راغلی پلاوی سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۸ نېټه وکتل.

ښاغلي تـرابی صاحب له هرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او مننه یې ورڅخه وکړه چې د کنړ ولایت زلزله ځپلو کورنیو ته د مرستی په موخه راغلی دی او باید د یادو زیانمنو کورنیو سره هرړول مرستی وسی.

همداراز، ښاغلي تـرابی صاحب زیاته کړه چې هر سازمان یا مؤسیسه چې هر ځای مرستی ویشی، موږ ورسره پوره همکاری کوو او آسانتیاوی ورته برابره وو.

د مالیزیا د طبی مرستی ټولنی اجراییه مدیر، ښاغلي حافظ امیرول د یادی ادارې د کاری ټیم څخه یې ځانګړې مننه وکړه او زیاته یې کړل چې موږ په تیره ورځو کې د کنړ ولایت زلزله ځپلو کورنیوڅخه لیدنه وکړل او د کنړ ولایت د نورګل ولسوالۍ ژیری بابا کمپ کی زیانمنو کورنیو ته سیار روغتیایی کلینکونه، سیار تشنابونه او واش په برخه کی خدمتونه ترسره کړل.

# انتقال مواد خوراکی و غیرخوراکی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر به گدام (ربحال)



محترم الحاج ملا عبدالولی شارنوال (حاجی وارث) در جریان سفر خویش به ولایت لوگر بتاریخ ۱۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق از گدام ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بازدید نموده و دستور داد تا مواد خوراکی و غیرخوراکی که در کانتینرها نگهداری می‌شد و در معرض فاسد شدن قرار دارند، به محل مصوون منتقل گردد.
بر اساس هدایت محترم معین انسجام امور حوادث، هیات همراه ایشان با ریاست انرژی و آب ولایت لوگر هماهنگی لازم را انجام دادند تا ربحالی که قبلاً در محوطه آن ریاست نصب و برای گدام این ریاست آماده شده بود، پاک‌کاری و ترمیم نموده و سپس تمامی مواد خوراکی و غیرخوراکی با رعایت کامل اصول نگهداری به گدام (ربحال) منتقل گردید تا ضمن جلوگیری از فاسد شدن، تضمین شود که کمک‌ها در حالات اضطراری به خانواده‌های آسیب‌دیده و نیازمند توزیع گردد.
گفتنی است که این اقدام مهم نشان‌دهنده تلاش‌های مستمر اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث برای حفظ سلامت و رفاه شهروندان و ارتقای استانداردهای نگهداری و توزیع کمک‌های بشردوستانه می‌باشد.

# نظارت هیأت تخنیکی بر فعالیت‌های مؤسسه بین‌المللی هلوترست و خنثی‌سازی یک نارنجک ۴۰ میلی‌متری در مرکز ولایت لوگر



به اساس هدایت محترم الحاج ملا عبدالولی شارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث، هیأت تخنیکی متشکل از نمایندگان ریاست‌های انسجام و هماهنگی تطهیر ماین، روابط بین‌الملل، اطلاعات و نشرات و ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، از روند فعالیت‌های مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هلوترست در منطقه دشت آبچکان، پل علم آن‌ولایت بتاریخ ۱۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق بازدید و نظارت به‌عمل آورد.
در جریان این بازدید، تیم تخنیکی ماین‌پاکی مؤسسه متذکره موفق شد یک نارنجک ۴۰ میلی‌متری انفجار ناشده را کشف کرده و آن را به‌شکل مصوون خنثی و به طور کامل از بین برده شد. بررسی‌ها نشان داد که این نارنجک از جنگ‌های گذشته باقی مانده و با وجود اینکه قابل استفاده نبود، برای اهالی محل خطر جدی ایجاد می‌کرد.
باید گفت که این عملیات نمونه‌ای از تلاش‌های مستمر و هماهنگی دقیق میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسات بین‌المللی در راستای حفاظت از جان شهروندان و پاک‌سازی مناطق آلوده از ماین و مهمات منفجرناشده می‌باشد.
در اخیر هیات تخنیکی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با تأکید بر اهمیت نظارت مستمر بر فعالیت‌های پاک‌سازی، گفتند که تلاش‌های مشترک با مؤسسات بین‌المللی ادامه خواهد داشت تا همه مناطق در سطح کشور از خطرات ماین و مهمات منفجر ناشده از جنگ‌های گذشته پاک‌سازی شده و مردم در امنیت کامل زندگی کنند.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د کنړ ولایت د زلزله ځپلو له کیمپ څخه لیدنه وکړه



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري لوی رئیس، د یو رسمی پلاوی په مشرۍ د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۹ نېټه کنړ ولایت ته سفر وکړ. د دې سفر موخه د وروستی زلزلې له زیانمنو کسانو د وضعیت څخه کتنه او د دې طبیعی پېښې له زیانمنو سره د وړاندې شویو خدمتونو ارزونه وه.

ښاغلی ترابی صاحب، خاص کنړ ولسوالی ته له رسېدو وروسته، د هجرتآباد په سیمه کې له جوړ شوی مرکزی کیمپ څخه لیدنه وکړه، چې د زلزلې له زیانمنو لپاره د لومړنیو اسانتیاوو په لړلو سره ۲۵۰ خیمې پکښې شاملې دی. نوموړی د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له رئیس، محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر څخه د دې کیمپ د اسانتیاوو په اړه راپور واخیست او د لا غوره اسانتیاوو د برابرولو لپاره یې لازمې سپارښتنې وکړې.

د دې لیدنې په ترڅ کې، هغه د زلزلې له شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو کورنیو سره وکتل او خبرې یې ورسره وکړې؛ له نږدې یې د هغوی ستونزې او اړتیاوې واورېدې او د اسلامی امارت د مشرتابه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له خوا د زیانمنو کورنیو سره د خواخوږۍ او تسلیت پیغامونه ورسول.

د اداري لوی رئیس په خپلو خبرو کې د زیانمنو سره خواخوږۍ څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره د ټولو امکاناتو سره د زیانمنو تر څنګ ولاړه ده او د بېړنیو مرستو، خوراکی توکو، روغتیایی خدمتونو او مناسبو سرپناوو د برابرولو لپاره لازمې هڅې کوی، چې الحمدلله دا کیمپ یې یوه بېلګه ده.

هغه همدارنګه وویل چې د ا.ا.ا د مسوولینو او همکارو موسسو له خوا د شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکی، غیر خوراکی او نغدی مرستو بهیر په دوامداره توګه روان دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس کونړ ولایت ته په سفر کې د ریاست الوزرا له اقتصادی مرستیال او د دې ولایت له والي سره لیدنه وکړه



د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د زلزلهځپلو لپاره د خدمتونو وړاندې کولو د بهیر د څارنې په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۹ نېټه کونړ ولایت ته سفر وکړ او د ریاست الوزرا له اقتصادی مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر، د ننګرهار والی محترم الحاج مولوی ګل محمد، د سرې میاشت لوی رئیس، محترم مولوی شیخ شهابالدین دلاور او د کونړ له والی محترم مولوی ابو حمزه سره وکتل.

محترم ملا عبدالغنی برادر د شهیدانو او ټپیانو له کورنیو سره د خواخوږۍ تر څنګ د امارت د اړوندو ادارو پر وخت د رسېدنې ستاینه وکړه او مسؤلینو ته یې لارښوونه وکړه چې د دولت له ټولو امکاناتو څخه په استفادې د زلزله ځپلو لپاره اسانتیاوې برابرې کړی. نوموړی له خیریه مؤسسو او خیرو کسانو هم وغوښتل چې خپلو مرستو ته دوام ورکړی او د دایمی سرپناوو پر جوړولو تمرکز وکړی.

په همدې حال کې، محترم ترابی صاحب د کونړ له والی او د سره میاشت له لوی رئیس سره په غونډه کې د زیانمنو لپاره دایمی کورونو د جوړولو په اړه هر اړخیز بحث وکړ او له مرستندویه موسسو سره یې د نېکو اړیکو د درلودو او د شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته د رسېدنې په اړه خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې د زیانمنو لپاره جوړېدونکی کورونه باید د معیاری نقشې، لوړ کیفیت او د طبیعی پېښو په ځانګړې ډول د زلزلو پر وړاندې د مقاومت وړتیا ولری. همدارنګه د کونړ محترم والی د یادو مرستو د ځای پر ځای کولو ستاینه وکړه او د زلزلهځپلو لپاره د کورونو د جوړولو په برخه کې یې د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه وکړه. همداراز د سرې میاشت لوی رئیس محترم دلاور صاحب څرګنده کړه چې که امکان وی د کورونو نقشه دې د ښار جوړونې وزارت سره په همغږۍ جوړه شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د زیړی بابا له پنډغالي څخه لیدنه وکړه او د مالیزیا هېواد د طبی مرستو ټولنې له اجرائیه مدیر سره یې وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د لارښوونې پر بنسټ یې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۹ نېټه کونړ ولایت ته سفر وکړ، په نورګل ولسوالۍ کې د زیړی بابا له پنډغالی څخه لیدنه وکړه او موجوده ستونزې او ننګونې یې واورېدې.

محترم ترابی صاحب د پنډغالی له بېلابېلو برخو څخه لیدنه وکړه او له مسؤلینو څخه یې د ستونزو له اورېدو وروسته وویل چې سر له سبا څخه به د پنډغالی د تنظیم چارې پیل شی. د هغه په خبره، خېمې به راټولې کړل شی، د خیمو ځای به یو ځل بیا هوار شی او خېمې به په ټاکلی کرښو او یو منظم صف کې ولګول شی. همداراز، که اړتیا وه، د پنډغالی په منځنی سړکونو به جغل واچول شی. نوموړی زیاته کړه چې یاد پنډغالی به په جومات، تشنابونو او د ځښاک اوبو په اسانتیاوو سمبال شی، څو د زلزله‌ځپلو لپاره لا زیاتې آسانتیاوې رامنځته شی.

په همدې مهال، د ادارې لوی رئیس د مالیزیا هېواد د طبی مرستو ټولنې له اجرائیه مدیر، حافظ احمد امیرول سره وکتل. په دې لیدنه کې د زلزله‌ځپلو لپاره د ځښاک اوبو د برابرولو پر چارو خبرې وشوې او په منظم ډول د خدمتونو د پلی کېدو پر همغږۍ ټینګار وشو. د یادې ټولنې مسؤلینو وویل چې د زیړی بابا په پنډغالی کې به د ځښاک اوبو د برابرولو لپاره څو ځاګانې وکیندل شی.

## بهره‌برداری ۹ کیلومتر سرک در ولسوالی دایمیرداد ولایت میدان وردک




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک، پروژه بازسازی ۹ کیلومتر سرک در ولسوالی دایمیرداد را بتاریخ ۱۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق با موفقیت تکمیل و برای استفاده وسایط نقلیه به بهره‌برداری سپرد. این سرک قریه‌های شاهی خیل، بدرغنک، انکه و سیاچغر را به یکدیگر متصل می‌سازد و نقش مهمی در تسهیل رفت‌وآمد ساکنان منطقه ایفا می‌کند.
گفتنی است که برای اجرایی شدن این پروژه، ۴۰۰۰ لیتر دیزل از سوی محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، تخصیص یافته و مردم ولسوالی دایمیرداد نیز با همکاری فعال خود در تسریع عملیات بازسازی مشارکت داشته‌اند.
با تکمیل این پروژه، مسیر رفت‌وآمد میان ولسوالی‌های دایمیرداد و نرخ هموار شده و مشکلات حمل‌ونقل و دسترسی ساکنان منطقه به مراکز خدماتی و اقتصادی تا حد زیادی برطرف گردیده است. ساکنان دایمیرداد ضمن قدردانی از حمایت‌ها و همکاری‌های مستمر اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، به ویژه از تلاش‌های رئیس عمومی این اداره، تأکید کردند که حضور فعال این اداره در حل مشکلات مردم همواره ملموس و مؤثر بوده است.
همچنین، در راستای بهبود شرایط زیست محیطی و کاهش خطرات ناشی از سیلاب‌ها، برای پاک‌کاری بستر رودخانه قریه تنگی سیدان در ولسوالی دایمیرداد، ۵۰۰۰ لیتر دیزل تخصیص یافته که تاکنون حدود ۳۰ درصد از عملیات پاک‌کاری تکمیل شده و ادامه پروژه به‌طور عملی در جریان است.

## په دیوه‌ګل دره کې ۱۰۱۷ زلزله‌ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې، د امیه مؤسسې، د اسلو مؤسسې، د OCHR مؤسسې، د نصیر خیریه بنسټ، د ترکۍ IFAM مؤسسې، د اصیل خیریه مؤسسې، د ننګیال خیریه بنسټ او د BGK مؤسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه د څوکۍ ولسوالۍ د دیوه‌ګل درې په بېلابېلو کلیو کې ۱۰۱۷ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست د ګډې کمېټې له لوری ۱۲۵ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه، د OCHR مؤسسې له لوری ۱۸۲ کورنیوهرې یوې ته یوه صحی بسته، د امیه مؤسسې له لوری ۳۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۵ تختې کمپلې او ۱۰۰ ډېرو زیانمنو کورنیو هرې یوې ته یوه باب خیمه، د نصیر خیریه بنسټ له لوری ۲۰۰ کورنیو ته اوړه، وریجې، لوبیا، غوړي او شین چای، د ترکۍ IFAM مؤسسې له لوری ۱۹ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ ډالر، د اصیل خیریه مؤسسې له لوری ۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۲ تختې کمپلې، یو باب خیمه، ۱۲ متره فرش، ۵۰ کیلو اوړه، ۱۵ لیتره غوړي او ۱ کیلو شین چای، د ننګیال خیریه بنسټ له لوری ۵۰ کورنیو هرې یوې ته ۵۰۰۰ افغانۍ، د BGK مؤسسې له لوری ۱۰۰ کورنیو هرې یوې ته وریجې، غوړي، لوبیا او بوره او د اسلو مؤسسې له لوری د ۱۵ شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۴۰۰۰ افغانۍ نغدې مرستې ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده چې دا ټول بهیر د هغو کمېټو تر څار لاندې ترسره شو چې د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست د ګډې کمېټې تر چتر لاندې جوړې شوې دي.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۵ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې




د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۱۲۵ کورنیو ته چې په دې وروستیو کې له پاکستان او ایران څخه په اجباري توګه را ایستل شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې دوه بوری۲۵ کیلویی وریجې، یو عدد د اوبو سطل او ۲ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## په تخار ولایت کې د هاوان مرمۍ کشف او خنثی کړل شوې




د تخار ولایت د کلفګان ولسوالۍ په قره‌تو کلي کې د هاوان ۸۲ میلي‌متری دوه فیره مرمۍ کشف او خنثی کړل شوې.
دا جنګي توکی د سیمې د اوسېدونکو له خوا پېژندل شوي وو او د اومر ماین پاکۍ مؤسسې ته یې راپور ورکړل شوی و. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اومر مؤسسې ترمنځ د همکارۍ د هوکړه لیک پر بنسټ، د یادې مؤسسې د انجنیري ټیم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د استازي او د کلفګان ولسوالۍ د امنیې قومندانۍ د استازي په شتون کې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه له هستوګنیزې سیمې لرې په خوندي ډول وچاودل شوې.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د خلکو له همکارۍ مننه کوي چې د جګړو د پاتې شویو چاودېدونکو توکو په پېژندنه کې یې مرسته کړې ده، او له ټولو اوسېدونکو غوښتنه کوي چې د دې ډول توکو په لیدلو سره سمدستي اړوندو ادارو ته خبر ورکړي، تر څو د احتمالي خطرونو مخه ونیول شي.

## په سرپل ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول




د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اومر مؤسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل.
دا ناچاوده توکی د سرپل ولایت د ښاروالۍ د محترم ریاست له ساحې څخه د اومر د محترم دفتر له لوري ترلاسه شول او د دقیقې څارنې لاندې خنثی کړل شول. دا اقدام د افغانستان د اسلامی امارت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اومر دفتر تر منځ د همکارۍ د هوکړه لیک په چوکاټ کې ترسره شوی دی.
د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس وویل، چې دغه هڅې د ښاریانو د امنیت د ټینګښت او د احتمالی پېښو د مخنیوی په لړ کې یو مهم ګام دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۹ خانواده آسیب‌دیده مواد غذایی، غیرغذایی و کمک نقدی توزیع کرد




به اساس هدایت مقام محترم ولایت کابل، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت برای ۹ خانواده آسیب‌دیده مربوط شهر کابل که قبلاً از سوی این ریاست سروی شده بودند، بتاریخ ۱۴ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مواد غذایی، غیرغذایی و کمک نقدی توزیع نمود.
در این روند، در حضور مسئولین برای هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی گندم، یک بوری ۲۵ کیلویی برنج، دو تخته لحاف، دو تخته کمپل، یک جوره چپلی، یک عدد بشکه آب، شش قالب صابون دست‌شویی و برای دو خانواده‌ای که خانه‌های‌شان به‌طور کامل تخریب شده بود، یک باب خیمه نیز توزیع گردید. همچنان برای خانواده یک شهید مبلغ بیست هزار (۲۰,۰۰۰) افغانی کمک نقدی توزیع شد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۳ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRDPO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکي همکارۍ او د WFP سازمان په مالي ملاتړ، د دې ولایت په علیشنګ، دولت شاه، علینګار ولسوالیو او مرکز مهترلام کې ۴۳ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او یو کیلو مالګه ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو ترلاسه کولو له امله خوښي څرګنده کړه او د ورته نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې چاودېدونکې توکي کشف او خنثی کړل شول

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د QRT-04 ماین پاکۍ موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه د دې ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په سسی کلي کې د هاوان ۸۲ میلي‌متره یو فیره مرمۍ او دوه عدده لاسي ګرنیټونه کشف او خنثی کړل.

په عین حال کې، د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماین پاکۍ تخنیکي ټیمونه په ټول ولایت کې مؤظف کړي، ترڅو په پاتې سیمو کې د چاودېدونکو توکو له امله رامنځته کېدونکي خطرونه کم کړي.

د یادونې وړ ده، چې د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو غوښتي، چې د هر ډول مشکوکو یا چاودېدونکو توکو د لیدلو په صورت کې، ژر تر ژره له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، ترڅو د خنثی کولو لپاره یې اړین اقدامات ترسره شي.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل برای ۳،۲۴۹ خانواده کمک‌های خوراکی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ماهو، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با حمایت تخنیکی مؤسسه متذکره و همکاری مالی سازمان جهانی غذا (WFP) بتاریخ ۱۴ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق در شش قریه ولسوالی کوهستانات، بسته‌های غذایی، برای ۳۲۴۹ خانواده نیازمند کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده دو بوری آرد ۲۵ کیلویی، یک بوشکه روغن ۴.۵۵ لیتری، ۶.۲۵ کیلو دال و ۰.۵ کیلو نمک توزیع گردید.

# د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه د خوراکي او غیرخوراکي توکو دوه کېټونه ووېشل.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ تختې کمپلې، یو باب خیمه، یوه تخته توشک، یو جای نماز، ۲ بوتل نیم کیلویي غوړي، ۲ پاکټه مکروني، ۲ پاکټه خرما، ۲ پاکټه بوره، د ماشومانو لپاره ۲ پاکټه بسکېټ، ۲ پاکټه لوبیا، ۲ پاکټه وریجې، ۴ پاکټه دال، یو پلاستیکي دسترخوان، ۱ پاکټ پوډر، ۴ پاکټه روی پاک، ۴ د غاښونو برسونه، ۲ د غاښونو کریم، ۱ بوتل د لوښو شامپو، ۱ دستشویي شامپو، ۱ د ځان مینځلو شامپو، ۴ کلچې صابون، ۱ بنډل کاغذ تشناب، د ماشومانو لپاره ۲ پمپر، د لوښو پاکولو ۱ وسیله او ۱ لاسپاک ووېشل شول.

ورته مهال، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار وکړ، چې له زلزله ځپلو کورنیو سره به د مرستو لړۍ دوام ولري.

# د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې د ۶۱۲ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشل شوې

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې د خیرالنصر مؤسسې، د نصیر خیریه بنسټ، د یونیسف دفتر او د یو افغان سوداګر په ملاتړ د ځوکۍ ولسوالۍ د دیوه ګل درې په بېلابېلو کلیو کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۴ نېټه د ۶۱۲ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، د ګډې کمېټې له لورې ۱۷۰ کورنیو هرې یوې ته توشک، بالښت، سطل، لوټکه، د اوبو ترموز، د اودس کوزه، بیل، کلنګ او سختو زیانمنو کورنیو ته ۱۰۰ باب خیمې، د یونیسف له لورې د هرې کورنۍ لپاره ۴ د اوبو بُشکې او ۴ د اوبو د پاکولو ټابلیټونه، د نصیر خیریه بنسټ له لورې د هرې کورنۍ لپاره یو من وریجې، ۵ لیټره غوړي، یو من لوبیا، یو کیلو شین چای، یوه روغتیایي بسته، ۳۰ کورنیو هرې یوې ته خیمې او هرې کورنۍ ته د پخلنځي یوه بسته، د یو افغان سوداګر له لورې ۴۷ کورنیو هرې یوې ته یو د اوبو ترموز، یوه لوټکه او یوه سترنجۍ ووېشل شوه.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د ګډې کمېټې له دوامدارو هڅو مننه وکړه او دغه مرستې یې اغېزمنې وبللې.



## د کونړ ولایت د وروستۍ زلزلې د ۸۷۳ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې له لورې نغدې مرستې ووېشل شوې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې، د DRC مؤسسې، د ترکی IFAM مؤسسې، د اسعدآباد صرافۍ او د افغان سوداګرو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه د څوکۍ ولسوالۍ د دیوه‌ګل دره په بېلابېلو کلیو کې د ۸۷۳ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، د تُرکی IFAM مؤسسې له لورې ۱۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۰۰ ډالر، د DRC مؤسسې له لورې ۴۴۵ کورنیو هرې یوې ته ۹۵۰۰ افغانۍ، د ننګرهار د ټېلو ټانکونو ټولنې له لورې ۱۰۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۴۰۰۰ افغانۍ، د کابل د سوداګرو ټولنې له لورې ۱۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ، د قاری عبدالله، د جلال‌آباد سوداګر له لورې ۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۳۰۰۰ افغانۍ، د یو افغان سوداګر له لورې ۲۲ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰۰ افغانۍ، د اسعدآباد صرافۍ له لورې د ۱۳ شهیدانو هر یو ورثه ته ۱۰۰۰۰ افغانۍ او د ۹ نورو شهیدانو کورنیو هرې یوې ته ۵۰۰۰ افغانۍ، د یو بل افغان سوداګر له لورې ۴۶ کورنیو هرې یوې ته ۳۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د ګډې کمېټې د دوامدارو هڅو قدردانی وکړه او دغه مرستې یې اغېزمنې وبللې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای۲۰۰ خانواده زلزله‌زده کمک‌های خوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی موسسه WFP، برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده از زلزله در ولسوالی دره نور آن ولایت در قریه‌های مچگنډول، ستن و بمبه‌کوټ بتاریخ ۱۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی برای یک ماه توزیع نمود.

در این پروسه باحضور مسوولان، به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱ کیلو نمک و ۱۲.۵ کیلو دال توزیع گردید.

دریافت‌کنندگان کمک‌ها ضمن ابراز سپاس از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه WFP، خوشنودی خود را از رسیدگی به موقع و حمایت‌های ارائه شده اعلام کردند.

# کشف و خنثی‌سازی ۲۸ مورد ماین و مهمات منفجرناشده در ولسوالی شکین پکتیکا

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا با حمایت تیم تخنیکی مؤسسه بین‌المللی ماین‌پاکی هیلوترست در قریه شمس الدین چینی ولسوالی شکین این ولایت، ۲۸ مورد مختلف‌النوع مهمات منفجرناشده را شناسایی و به گونه‌ی مصوون بتاریخ ۱۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق خنثی نمود.

این مهمات که از جنگ‌های گذشته به‌جا مانده بود، قابل استفاده نبوده اما برای باشندگان محل تهدید جدی محسوب می‌شد. تیم تخنیکی هیلوترست این مواد را به شکل مصون تخریب و از بین برد، که در نتیجه باشندگان محل از خطر احتمالی آن مصوون شدند.

## په لوګر ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم، د یاد ولایت د مرکز پل علم په دشت آبچګان سیمه کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی ۳ عدده بېلابېل ډول ناچاوده توکی کشف او په خوندی توګه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه خنثی کړل.

د یادونې وړ ده، چې په یادو چاودېدونکو توکو کې ۷۵ ګرامه انفلاقیه مواد، ۳ عدده آتشی پټاقې او ٤،٥ متره فلیته ثانیه سوز کارول شوی.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۲۳۳ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد

براساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه ورلد ویژن، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی مؤسسه متذکره، بتاریخ ۱۵ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۳۳ خانواده مستحق در ولسوالی قیصار مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده پس از انجام سروی و در حضور هیأت مربوطه مبلغ ۲۹۳۰ افغانی معادل ۴۲.۸ دالر امریکایی توزیع گردید که در مجموع مبلغ شش‌صد و هشتاد و دو هزار و شش‌صد و نود (۶۸۲,۶۹۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په شبر ولسوالۍ کې د ګبیونی دیوالونو او چکډیمونو جوړولو کار پیل کړ




د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې (AKAH) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه د یاد ولایت د شبر ولسوالۍ په عراق غلامی کلي کې د سیلاب د خطرونو د کمولو په موخه د ګبیونی دیوالونو او چکډیمونو د جوړولو کار پیل کړ.
دا پروژه ټولټال د ۱۶،۰۰۰ ډالرو په ارزښت پلې کېږي چې څلور چکډیمونه سره له ګبیونی دیوالونو به په کې جوړ شي.
د یادونې وړ ده، چې دا پروژه د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو د پروژو یوه برخه ده او د پروژې کارونه به د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د AKAH دفتر تر څارنې لاندې د شپږو اونیو په موده کې بشپړ شي.

---

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۹۸ خانواده متأثر از سیلاب کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان، به دنبال سروی انجام شده در ولسوالي کوه‌صافی آن ولایت، بتاریخ ۱۶ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۹۸ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌های اخیر کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در جریان این روند با حضور مسئولین به هر خانواده ۵۰ کیلو گندم و یک بسته صحی توزیع گردید.

---

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست وروستۍ زلزله ځپلو ۸۳ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ARCI مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په تخنیکي همکارۍ او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي ملاتړ، د دې ولایت په چپه دره ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۸۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل شول.

## په پکتیکا ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم، د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي ۱۶ عدده بېلابېل ډول ناچاوده توکی کشف او په خوندی توګه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه خنثی کړل.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو، چې اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندی پاتې شول. همدا راز، هغوی له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لېدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## په میدان وردګ ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول




د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د ایریا ماین پاکۍ مؤسسې د QRT-04 ټیم، د یاد ولایت په مرکز میدان ښار کوتل تخت سیمه کې یو عدد ۱۲۲ ملی مترې د ټانک مرمۍ، دوه عدده د هاوان مرمۍ، او دوه کړۍ د پرسونل ضد ماینونه کشف او په خوندی توګه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه له منځه یوړل.

د یادونې وړ ده، چې میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست له خلکو غوښتنه کړې، چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په صورت کې، ژر تر ژره له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسی، تر څو د خنثی کولو لپاره یې اړین اقدامات ترسره شی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۱۰۰ تن در بدل کار پول نقد توزیع نمود




بر اساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ مبارزه با گرسنگی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، در ولسوالی‌های درایم و یمگان، در چارچوب پروژهٔ «بهبود معیشت و افزایش تاب‌آوری جامعه از طریق مدیریت خطرات بحران» برای ۱۰۰ تن کارگر در بدل کار بتاریخ ۱۶ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق پول نقد توزیع کرد.

در این روند با حضور مسئولین، کارگران برای ۲۰ روز کاری به کار گماشته شده بودند که برای هر کارگر روزانه ۴۰۰ افغانی در نظر گرفته شده بود، به هر کارگر مبلغ ۸,۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع هشت صدهزار(۸۰۰,۰۰۰) افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

## په هلمند ولایت کې بوشکه یي ماین کشف او خنثی کړل شو




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د MAPA-Hotli-ne-1948 له لارې ترلاسه شوې اړیکې پر بنسټ د اریا ماین پاکۍ موسسې د چټک غبرګون ۱۱ نمبر ټیم د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه د یاد ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د ده زوری سفلی کلی ته د ماین له منځه وړلو په موخه ولېږدوه. د چټک غبرګون ټیم د سیمې تر څېړنې وروسته یو عدد بوشکه یی ماین کشف کړ او د امنیتي او تخنیکي تدابیرو په مراعاتولو سره یې له سیمې څخه انتقال او په خوندي توګه له منځه یووړ.

د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو له خلکو وغوښتل چې د هر ډول چاودېدونکو یا مشکوکو توکو په لیدو سره دې ژر تر ژر له یاد ریاست سره اړیکه ونیسي ترڅو د خلکو د ځانی او مالی زیانونو څخه د مخنیوی لپاره لازم اقدامات ترسره شي.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې




د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت د دره نور ولسوالۍ په وایګل، کشموند قلعه او صفر قلعه کلیو کې ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۶ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

د مرستو وېش د مسوولینو په شتون کې ترسره شو، چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړی، ۱۰ کیلو وریجې، ۵ کیلو لوبیا، ۷ کیلو بوره ،یو کیلو شین چای، ۲ کیلو خرما، یو باب خیمه او دوه تختې کمپلې ووېشل شوې.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار وکړ, چې د طبیعي پېښو له امله له زیانمنو شویو کورنیو سره به د مرستو لړۍ دوام ولري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۱۵۰ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان، برای ۱۵۰ خانواده متضرر از سیلاب‌های اخیر در ولسوالی سیاگرد آن ولایت، پس از سروی، بتاریخ ۱۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسئولین، به هر خانواده ۵۰ کیلو گندم و یک بسته صحی توزیع گردید.

## د کنړ ولایت په دیوه ګل دره کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۸۸۷ شهیدانو، ټپیانو او د زیانمنو شویو وارثانو ته خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستې وویشل شوې




د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ټولنیزو چارو ریاست د ګډې کمیټې کاري شریکانو، همکارو موسسو، خیریه بنسټونو او خیرخواهانو په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه د کنړ ولایت د دیوه ګل درې په مختلفو کلیو کې د وروستۍ زلزلې له امله د ۸۸۷ شهیدانو، ټپیانو او د زیانمنو شویو وارثانو ته خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړ کې، د پناه خیریه بنسټ لخوا ۶۸ کورنیو هرې یوې ته ۴,۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې؛ د لچګلی کلی د ځوانانو شورا لخوا ۵۴ کورنیو هرې یوې ته ۱,۵۰۰ افغانۍ وویشل شوې؛ د حاجي عبدالله لخوا د شهیدانو ۱۳ وارثانو ته ۷,۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې؛ او د یو سوداګر لخوا د شهیدانو ۲۲ وارثانو هر یوه ته ۳,۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې.

په عین حال کې، د عثمان بن عفان (رض) ټولنې لخوا ۱۵۰ کورنیو ته ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي او ۵۰ کیلو اوړه وویشل شول؛ د جرمني خیریه موسسې لخوا هرې کورنۍ ته ۵ لیتره غوړي، ۵ کیلو وریجې، ۱ کیلو مالګه، ۱ کیلو وچ چای او ۱ کیلو چاکلیټ وویشل شول؛ د کوچنیو کلیو د لومړي بانک له لورې د ۱۹۰ کورنیو لپاره هرې کورنۍ ته ۲ تختې کمپلې او ۱ نهه متري فرش وویشل شو؛ د ARCI موسسې لخوا د ۸۳ کورنیو لپاره هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه وویشل شوه؛ د اکتیډ موسسې له لورې د ۹۷ کورنیو لپاره هرې کورنۍ ته د پخلنځي یوه بسته وویشل شوه؛ د حاجي جمشید لخوا ۵۰ کورنیو هرې یوې ته اوړه، وریجې، غوړي او بوره وویشل شول؛ او د کاناډا ټورنټو ځوانانو له لورې د ۹۰ کورنیو لپاره د ښځو، نارینه وو او ماشومانو لپاره ۴۳۵ جوړې چپلکې او ۳۳۵ جوړې جامې وویشل شوې.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، امارتي ادارو او مرستندویه موسسو څخه خپل رضایت او خوښي څرګنده کړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې ۲۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړ کې د مسؤلینو په شتون کې، ۱۸ کورنیو هرې یوې ته، ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۳ جوړه څپلکې او ۲ کورنیو هرې یوې ۱۰۰ کیلو غنم، ۲۵ کیلو وریجې، ۲ جوړه څپلکې او یو باب خیمه وویشل شوه.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ یاست ۱۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ یاست د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه د دې ولایت په شورتپه ولسوالۍ کې د آمو سیند د اوبو لوړېدو له امله ۱۳ زیانمنو کورنیو ته ۱۰ قلمه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د WFP له لوري هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو مالګه، ۴۱.۵ پاکټه بسکېټ او د IOM له لوري هرې کورنۍ ته یو تخته ترپال، دوه عدد سولري څراغونه، یوه فامیلي بسته، یوه بسته کمپلې او یو باب خیمه ووېشل شوه.

## په لوګر ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول

د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکي ټیم، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه د یاد ولایت د مرکز پل علم په دشت آبچګان سیمه کلي کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي ۲ عدده ناچاوده توکي کشف او په خوندي توګه خنثی کړل.

د یادونې وړ ده، چې په یادو ناچاوده توکو کې، ۵۰ ګرامه ناچاوده توکو، درې کاره د اور بازۍ (پټاقي) او ٤ متره فلیته ثانیه سوز شتون درلود.



## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د Life خیریه موسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړې له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت د دره نور ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

د مرستو وېش د مسوولینو په شتون کې ترسره شو، چې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۱۰ پاکټه مالګه، ۱۰ کیلو سوجي، ٦٦ کیلو بوره، ٦ کیلو دال او ٦ کیلو مکروني ووېشل شول.

په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له یاد ریاست او موسسې څخه د مرستو د ترلاسه کولو په پار مننه وکړه.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه د وروستیو سېلابونونو له امله زیانمنو او د وچکالۍ له امله زیانمنو ۸۰ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې او یوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه ووېشل شول.

د دغو مرستو له ترلاسه کولو وروسته، یادو کورنیو له پېښو د مبارزې آمادګۍ ریاست له دوامداره پاملرنو او مرستو څخه خوښی څرګنده کړه او د اسلامی امارت په ځانګړې ډول د مرستندویه ادارو څخه یې د طبیعی او غیرطبیعی پېښو د زیانمنو شویو کسانو د ملاتړ لپاره د لا زیاتې پاملرنې غوښتنه وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د دره نور ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۰۰ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۷ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسوولینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړی، ۱۰ کیلو وریجې، ۵ کیلو لوبیا، ۷ کیلو بوره، ۱ کیلو شین چای، ۲ کیلو خرما، یو باب خیمه او دوه تختې کمپلې ووېشل شوې.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار وکړ، چې د طبیعي پېښو له امله له زیانمنو شویو کورنیو سره به د مرستو لړۍ دوام ولرې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه برای ۴۰ خانواده نیازمند کمک نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و شورای مهاجرین دنمارک(DRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه با حمایت مالی این شورا، برای ۴۰ خانواده نیازمند در شهر فراه مرکز آن ولایت پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۸ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۱۶۳۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ششصد و پنجاه و دو هزار ۶۵۲،۰۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها تخصیص یافته بود.

# د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷۸۶ کورنیو ته څه باندې ۳۲ میلیون افغانۍ نغدي مرستې ووېشل شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکاری او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالی ملاتړ، د دې ولایت په سنچارک ولسوالۍ کې ۲,۷۸۶ بې سرپرسته کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، د مسؤلینو په شتون کې په دوو پړاوونو کې په داسې ډول چې په لومړی پړاو کې ۱,۶۸۸ کورنیو ته، چې د هغوی سرپرستې ښځې وې هرې یوې ته ۱۲,۵۰۰ افغانۍ او په دوه یم پړاو کې ۱,۰۹۸ کورنیو ته، چې سرپرستی یې د نارینه وو په غاړه وه، هرې یوې ته ۱۰,۴۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمیر کورنیو لپاره دوه دېرش میلیون، پنځه سوه او نولس زره او دوه سوه (۳۲,۵۱۹,۲۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

# د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۱ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د RRDPO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکی همکارۍ او د WFP سازمان په مالی ملاتړ، د دې ولایت په مرکز مهترلام او علینګار ولسوالۍ کې ۷۱ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۵ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال او یو کیلو مالګه ووېشل شوه. د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو ترلاسه کولو له امله خوښی څرګنده کړه او د دغه ډول نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۵ زلزله ځپلو کورنیو ته صحی کیټونه ووېشل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډاکار خیریه موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د دره نور ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۱۵ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۸ نېټه معیاری او مصرفی صحی کیټونه ووېشل.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسوولینو په شتون کې، د معیاری کیټ په برخه کې، ۱۷ کلچې د لاس وینځلو صابون، ۷ کلچې د جامو وینځلو صابون، ۱ عدد ۲۰ لیټره بشکې، ۲ عدده ۱۰ لیټره بشکې، ۱ عدد سطل، ۱ عدد تشت، ۱ دسته جارو، ۱ عدد لاسی څراغ، ټیکه، کوټیکس، ۲ عدده د غاښونو کریم، ۷ عدده د غاښونو برسونه، ۱ عدد لوټه، ۱ عدد ناخونګیر او همدارنګه د مصرفی کیټ په برخه کې، ۳۳ کلچې دلاس وینځلو صابون، ۱۴ کلچې د جامو وینځلو صابون، ۲ عدده شامپو، ۲ عدده د غاښونو کریم، ۷ عدده د غاښونو برسونه او یو کوټیکس ووېشل شو.

په پای کې، د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو ترلاسه کولو په پار خوښی څرګنده کړه او له یاد ریاست او موسسې څخه یې د پر وخت رسېدنې له امله مننه وکړه.

**عامه پیغامونه :**

**9. وېر په احتیاط چلوئ چي هدف ته ژر ورسېږی چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کیدو له امله دربانډې ناوخته نشی**

**10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دې**